دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه
شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره ربښتینې مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مینه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منـنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

درس حدیث

از ابوهریره (رض) روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «همهٔ امتیان من وارد بهشت خواهند شد مگـر کسی که امتناع ورزد». صحابه عرض کردند: ای رسول خدا! چه کسی امتناع می ورزد؟ فرمود: «هرکس که از من اطاعـت کند، وارد بهشت می شود و هر کس، از من نافرماني کند، در حقیقت، امتناع ورزید ه است». (صحیح البخاری)

شهادت درېیم کال، ۴۷ مه ګڼه، پرله پسې ۱۴۷ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د کب ۳ مه د۱۴۳۳ هـ ق د ربیع الثانی لومړی د۲۰۱۲ م د فبروری ۲۲ مه

حامد کرزی درباره سفرش به پاکستان، به اوباما معلومات داد

کابل، رسانه ها:
قصر سفید می گوید، رییس جمهور کرزی پس از ملاقات با روسای جمهور ایران و پاکستان، شب گذشته به بارک اوباما رییس جمهور ایالات متحده امریکا در مورد تلاش های صلح به رهبری افغانان، معلومات تیلفونی داد.
دفتر ریاست جمهوری افغانستان هم در یک اعلامیه، گفته است که حامد کرزی از طریق تیلفون با بارک اوباما در مورد سفر اخیر خود به اسلام آباد، گفتگو و مذاکره با مقامات حکومت پاکستان و همچنان ملاقات با رهبران مذهبی این کشور، گفتگو کرد.
بر اساس اعلامیهء ریاست جمهوری افغانستان، هر دو جانب در مورد روابط دو جانبه، پروسهء صلح افغانستان و وضعیت امنیتی منطقه گفتگو کردند.
بقیه در صفحه ۴

د قرآنکریمونو پر سوځولو افغانانو د قهر او غصې ډک لاریونونه وکړل

ددغه کار د عاملینو د مجازاتو او له هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتونکي شول

کابل، رسنۍ:
ایساف د هغو راپورونو په اړه، چې منسوبینو یې په بګرام کې د قران کریم په ګډون زیات شمېر اسلامي کتابونه په ناسم ډول له منځه وړي دي، د خبرنو امر ورکړ او د افغانستان له خلکو او حکومت نه یې بښنه وغوښته.
پرون (د کب دویمه) سلګونو تنو د قرآن کریم د سوځولو په غبرګون کې په ځرخي پله کې سوله ییز، خو د بګرام د هوایي ډګر په خوله کې له تاوتریخوالي ډک لاریونونه وکړل او د دغه کار د عاملینو د مجازاتو او له هېواده د بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتونکي شول.
لاریون کوونکو د بګرام د هوایي ډګر د ساتونکو غرفه وسوځوله او د هغوی په ادعا، افغان کارکوونکو د بهرنیانو د دغه عمل مخالفت وکړ او له هغوی سره یې جګړه
پاتې ۴ مخ

استجواب شوي وزیران دې خپل دلایل په لیکلي بڼه راوسپاري "ولسي جرګه"

کابل، رسنۍ:
ولسي جرګې د دغوځلورو وزیرانو ځوابونه او دلایل قناعت بخښوونکي ونه بلل او پرېکړه یې وکړه چې دغه وزیران باید خپل دلایل په لیکلې بڼه جرګې ته وسپاري.
د ولسي جرګې د سې شنبې ورځې استجوابیه غونډې ته د مالیې وزیر حضرت عمر زاخیلوال، د کرنې وزیر محمد اصف رحیمي، د اوبو او برېښنا وزیر محمداسماعیل او د اطلاعاتو او کلتور وزیر سید مخدوم رهین وربلل شوي وو.
د ولسي جرګې لومړي مرستیال حاجي محمد ظاهر قدیر وویل، چې د وزیرانو د راپورونو او د بودیجې د قطعي ترمنځ توپیر موجود دی او دغه موضوع ډېرو څېړلو ته اړتیا لري:
"د جمع بندۍ په توګه باید عرض وکړم، چې د تیرو ورځو په شان نن هم د وزیرانو او مالیې وزارت د ځوابونو ترمنځ یو څه تضاد وجود لري.
نو بهتره دا ده، چې دغه وزیران خپل ځوابونه چې مونږ ته د قناعت وړ وي په لیکنې بڼه راولیږي."
پاتې ۴ مخ

در مورد اشتراک افغانستان در مذاکرات صلح شک وجود دارد

کابل، رسانه ها:
شبکه تحلیلگران افغانستان به نام جامعه تحقیقاتی در رابطه به جریان مصالحه ملی در افغانستان مطلب تحلیلی یی را پخش کرده می نویسد اشتراک افغانستان در جریان مذاکرات صلح تنها ادعایی است و در آن شک وجود دارد.
شبکه تحلیلگران افغان سوال می کند که ایا طالبان واقعاً با حکومت افغانستان داخل مذاکره شده اند و آیا این مساله حقیقتاً این همه اهمیت دارد؟
این تحلیل که در صفحه انترنیتی شبکه تحلیلگران افغانستان پخش شده می گوید، هر گاه یک مساله کمتر روشن باشد هر گفتاری منطقی معلوم می شود. ازین رو ارایه چند جمله منظم از سوی حامد کرزی در بخش مذاکره با طالبان می تواند به مثابه ثبوت این ادعا باشد.
اگر به ادعا های جریان مذاکرات صلح به دقت درنگ شود معلوم می گردد که مذاکرات سه جانبه هنوز خیلی خام است و از رد این ادعا ها توسط طالبان نیز چنین برداشت می شود. اما تحلیل می گوید، این را
بقیه در صفحه ۴

(سخنی با آقای داکتر رنگین دادفر سپنتا)

دوکتور محمد انور

مصاحبه طولانی جناب شما را با تلویزیون طلوع نیوز با دقت تعقیب نمودم که لازم می آید توجه شما را به نقاط ذیل معطوف می دارم. چه متأسفانه افراد مشغول در نظام دولت در پی ارتباطی با عامه ملت خود کمتر می توانند دردهای مردم خود را احساس کنند.
شما تا زمانی خدا نخواسته شرمسار هستید که:
- فرزندان کشور خود تان در دست بیگانه علیه تان بجنگد و شما برای برگشتاندن آنها برنامه نداشته باشید.
- ساز و برگ دفاعی تان محتاج تمویل بیگانه باشد و منتظر رحم و کرم سران و پارلمان های کشورهای خارجی باشد.
- در طی ده سال رویا رویی مستقیم پنجاه کشور جهان توان سرکوب نهائی مخالفین ایکه از دوباره مطرح شدن آنها احساس خجالتی می کنید، نداشته باشید.
- همه روزه آنهائی که برای دوام قدرت و کرسی شان فریاد می کشید تا سرحد قتل عام مخالفین هم نفیر عام جهانی را دعوت می کنید بخاطر نبود امنیت از تطبیق پروژه های وسیع عمرانی و اقتصادی اعلان عجز می کنند.
- بخاطر عجز و ناتوانی نظامی که شما به گرفتن امنیت آن فداکاری بخرچ می دهید فرزندان وطن تان به همان کشورهائی که آنها را دشمن و مداخله گر می خوانید بخاطر یافتن لقمه نانی تن به اهانت، تحقیر، زندان، جوغه دار و کشتار می دهند.
- اینک ده سال از حکمروائی نظامی که بشکل سمبیوسیس از همدیگر حمایه می کنید و به نفع آن تبلیغات سر می دهید با ملیاردها دالر کمک های جهانی و بالغ بر دو صدو هشتاد هزار کیلومتر مربع رقبه زرخیز، ...
(بقیه در صفحه سوم)

د امریکا نوی جنګي پالیسي د بې پیلوټه الوتکو په شکل کې

عبدالله کامه وال
درېیم مخ

افغانستان، ایران او پاکستان د یو بل لپاره د ملا د تیر حیثیت لري

محمد خلیل
دویم مخ

مذاکرات صلح، روابط طالبان با القاعده را خراب ساخته است

کابل، رسانه ها:
شرایط برای القاعده در افغانستان و پاکستان هر روز سخت تر می شود. این شبکه با حملات طیاره های بی پلوت امریکایی بر پناه گاهای رهبران آن، کشته شدن اسامه بن لادن در سال گذشته در نتیجه عملیات قوای کوماندوی امریکایی در پاکستان و خشک شدن سرچشمه های مادی آن روز بروز ضعیف تر می شود.
اکنون با اعلان اخیر طالبان که برای ختم جنگ در افغانستان به مذاکرات با امریکا راضی می باشند، القاعده در جنگ علیه غرب، در انزوای بیشتر قرار گرفته است.
تا جایی که به القاعده ارتباط دارد، این عمل طالبان به نظر آنها خیانت می باشد. مقامات
بقیه در صفحه ۴

افغان حکومت د ستراتیژیک تړون په اړه پر خپل دریځ ولاړ دی

کابل، پژواک:
افغان حکومت له امریکا سره د ستراتیژیک تړون لپاره یو ځل بیا د بهرنیو ځواکونو د شپې د عملیاتو پر درېدو او افغان لوري ته د بهرنیو زندانونو د چارو پر سپارلو ټینګار وکړ.
دا په داسي حال کې ده، چې د سناتور جان مکین او لینډسي ګراهام په ګډون د امریکا د متحدو ایالتونو د سنا مجلس پنځه کسیز پلاوی کابل ته په خپل وروستي سفر کې، په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو له خوا د شپې عملیات ګټور وبلل او ویې ویل، چې لا هم د دغو عملیاتو دوام ته اړتیا ده.
سناتور ګراهام وویل، چې دغه عملیات باید له افغانستان سره د امریکا د ستراتیژیک تړون پر وړاندې خنډ نه شي.
خو د ولسمشر حامد کرزي ویاند ایمل فیضي پژواک خبري اژانس ته وویل، چې د افغانستان دولت په دې اړه پر خپل مخکني دریځ ولاړ دی.
دی وایي، چې د شپې د عملیاتو درېدل او افغان لوري ته د بهرنیو زندانونو سپارل د افغانستان له خوا د دغه تړون د لاسلیک لپاره له شرطونو څخه دي.
پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

قیام سه حوت؛ حماسهٔ ماندگار تاریخ

تاریخ کشور عزیز مان افغانستان، سراسر مملو از حوادث و رویدادهای حماسی است، رویدادهای که وقوع هر یک از آنها در تعیین سرنوشت و مقدرات مردم این سرزمین، نقش داشته و خاطرات ماندگاری برای نسل های بعدی بجا گذاشته است و یادآوری و گرامیداشت آنها، به مثابهٔ درس های عبرتناک و رهنمودهای سازنده، مشعل راه و انگیزه عمل فرزندان این مرز و بوم به شمار می روند.

قیام ۳ حوت، مانند سایر حماسه های جاودانهٔ دلیر مردان افغان در طول تاریخ پنج هزار ساله این خطه، با خط زرین درج گاهنامهٔ مبارزات آزادیخواهانهٔ ملت مسلمان ما گردیده است و نسل اندر نسل حماسهٔ قهرمانانهٔ شهریان آزادهٔ کابل را که در روزهای نخستین پیاده شدن قشون سرخ، به تاریخ ۳ حوت آفریدند، از اذهان فراموش نخواهند شد.

حماسه ۳ حوت در زمانی اتفاق افتاد که زمین و هوای کشور ما در اشغال کامل قوای نظامی شوروی سابق درآمده بود، جنایت و وحشت عساکر تا دندان مسلح روس، هر روز در اطراف و اکناف کشور برای هموطنان ما فاجعه می آفرید، کوچکترین واکنش در برابر وحشگیری های قشون سرخ موجب می گردید که جمعی از هموطنان بی گناه ما در مرکز و ولایات، طعمهٔ مرگ شوند، جمعی دیگر زخمی و معلول و زندانی و آنانیکه جان به سلامت می بردند، بی خانمان گردیده و آوارهٔ سرزمین های بیگانه شوند.

آری ! در چنین وضعیت خفقان و وحشتناک جمعی کثیری از شهریان کابل، اعم از پیر و جوان و زن و مرد و معلم و متعلم و کسبه کار و استاد و محصل، شب ۳ حوت ۱۳۵۸ با سر دادن نعره های کفر شکن تکبیر از پشت بام های شان، عرصه را بر اشغالگران و ایادی آنها تنگ کردند. سر دادن شعارهای تکبیر در هنگام شب، بمثابهٔ محاصره و ارعاب دشمن بود و قرار بر آن بود که فردای همان شب (روز ۳ حوت) صف های انبوه و طویلی از قیام کنندگان از نوایح و استقامت های مختلف، بسوی مرکز شهر رهپیمایی کنند و اگر با شلیک مرمی های عساکر روسی و ایادی مزدور روبرو شدند، آنها را با فریادهای تکبیر پاسخ بگویند. در این نبرد نابرابر به صدها نفر از تظاهر کنندگان آماج شلیک گلوله های داغ عساکر اشغالگر قرار گرفتند و در جلو چشمان همرزمان شان یکی پی دیگر شهید شدند و صدهای دیگر با برداشتن زخم در روی جاده ها در خاک و خون غلتیدند.

ریختن خون شهدا و زخمی های معرکه ۳ حوت، هیچ تأثیر منفی ای بر ارادهٔ برحق قیام کنندگان نداشت و پس از شهادت هر شیرمرد و شیرزنی از صف اول نبرد، مجاهدین صفوف بعدی دلیرانه جلو آمده، بیرق و شعار آنها را حمل می کردند و در خطاب به اشغالگران می گفتند: قشون اشغالگر و متجاوز از کشور اسلامی ما خارج شوید، افغان های مسلمان و آزاده از اشغال و جنایت روسها نفرت دارند، کسانی که شما را به سرزمین ما دعوت کرده اند، آنها افغان نیستند، بلکه جنایتکاران ملحدی اند که بزودی با شما یکجا به جزای اعمال شان خواهند رسید و... اسلحهٔ دشمن در معرکهٔ ۳ حوت توپ و تانک و طیاره و تفنگ و خون پاره بود، ولی حربهٔ تظاهر کنندگان، فقط ایمان، شهامت، ارادهٔ قاطع و نعره های تکبیر بود.

عساکر روس با شلیک گلوله های آتشین، سینهٔ تظاهر کنندگان را می دریدند و از جاری شدن خون آن ها در روی زمین حظ می بردند، مگر حماسه سازان ۳ حوت با به آغوش کشیدن عروس شهادت، فریاد (الله اکبر) و ندای (فزت و رب الکعبه) سر می دادند !

حماسه ۳ حوت در فاصلهٔ زمانی دو ماهه پس از تجاوز قشون سرخ به افغانستان، عکس العمل شهریان شریف و متدین کابل به نمایندگی از قاطبهٔ ملت افغان در برابر اشغالگران و جنایتکاران روس بود که در اثر شهادت و زخمی شدن صدها نفر در حومهٔ شهر و اطراف و اکناف آن در آن روز، به یک حماسه جاودانه و تاریخی مبدل گردید و با به ودیعه گذاشتن این درس و پیام به نسل های بعدی به جهانیان ثابت کردند که فرزند افغان هیچگاه و هرگز در برابر هیچ متجاوز و اشغالگری تسلیم نخواهد گردید و در صورت نداشتن سلاح گرم، با حربهٔ ایمان و نعرهٔ تکبیرش، قلب و روان دشمن را نشانه خواهد رفت.

آری ! نتیجه عملی قیام ۳ حوت و قیام های مماثل آن، حماسهٔ تاریخی ۲۶ دلو بود که قشون اشغالگر روس، پس از ده سال دست و پنجه نرم کردن با مجاهدان، آخر الامر با یک عالم فضیحت و رسوایی، با سر افگندگی، قبل از آنکه به آب های گرم بحر هند برسند، واپس بسوی دشت های سرد و منجمد سایبریا عقب زده شدند.

حقا که حماسه تاریخی ۳ حوت سزاوار هر نوع گرامیداشت و تذکر است و قبل از همه بر اولیای امور است که با تجلیل و یادآوری از چنین روزهای تاریخی، احساس، اراده، ایمان و شهامت مردم مسلمان را زنده نگهدارند تا در آینده نیز دشمنان شوق تجاوز و اشغال افغانستان را نکنند و در صورت داشتن ارادهٔ سوء آنها، فرزندان این سرزمین در برابر شان تسلیم نگردیده و یاد و خاطره نیاکان آزادهٔ خویش را گرامی دارند.

(گرامی باد یاد و خاطره شهدای قیام ۳ حوت)

افغانستان، ایران او پاکستان د یو بل لپاره د ملا د تیر حیثیت لري

محمد خلیل

د تېرې جمعې په ورځ د سلواغې په ۲۸ مه په اسلام آباد کې د افغانستان، ایران او پاکستان د درې اړخیزې سرمشریزې له غونډې وروسته د دریو هېوادو ولسمشرانو په یوه ګډه اعلامیه کې په دې خبره موافقه وکړه چې د ملګرو ملتو له منشور سره سم به د یو بل د زمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ ته احترام کوي او د یو بل په کورنیو چارو کې به لاسوهنه نه کوي.

په اعلامیه کې راغلي چې خپله خاوره به د یو بل پر ضد نه کاروي ترهګرۍ د ټولو له پاره ګواښ ده په وړاندې یې باید په ګډه مبارزه وشي.

دغه پورتني درې مادې ډېرې مهمې او بنسټیز رول لري، که پر دغو مادو په صحیح معنی عمل وشي نو له څه شک پرته به درې واړه ګاونډي هېوادونه لویه ګټه او بریا ترلاسه کړي.

تراوسه پورې چې دغه درې ګاونډي اسلامي هېوادونه څومره له یو بل نه لېرې او یا هم له ګنو کړاوونو سره لاس او ګریوان شوي دي ددې یواځینی ستر لامل همدا دی چې دوی پخپلو کې نه د ګاونډیتوب د حقوقو احترام کړی دی او نه هم د یو بل د زمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ ته په درنښت کتلي دي، ځکه خو ددغې ګډې اعلامیې د لاسلیک کولو اړتیا ولیدل شو چې لدې وروسته به د یو بل د زمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ احترام کوي او د یو بل په کورنیو چارو کې به لاسوهنه نه کوي. که واقعاً له وړاندېنه د دریو واړو ګاونډیو هېوادو ترمنځ د یو بل د زمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ احترام، او د یو بل په کورنیو چارو کې له لاسوهنې نه ډډه شوې وای نو ددغې اعلامیې د خپرولو او لاسلیک کولو ضرورت به مخې ته نه و راغلی.

د فارسي متل: (دیر آید درست آید) په مصداق اوس هم د خوښۍ ځای ده چې ګاونډیو هېوادونو لږ تر لږه بالاخر خپل مسؤولیت او ضرورت احساس کړ، او په دې خبره پوه شول چې خپلمنځي دښمنیو او بې اتفاقیو کې د هېچا خیر نشته او په خپل وار به هر یو د پراختیا غوښتونکو لیوانو د هوسونو ښکار شي. کاش ! دا احساس له وړاندېنه شوی وای او حالات دومره خرابېدو ته نه وای پرېښودل شوي چې سیمه له دومره لوی بحران او ناورین سره مخامخه شي.

وړاندې چې کومې سهوې او تېروتنې شوي دي پر هغو له پښیمانۍ او افسوس پرته نور څه نشي کېدلې خو د هغو د جبران یواځینۍ لاره داده چې لدې وروسته ګاونډي هېوادونه خپل مسؤولیت په صحیح معنی وپېژني او د یو بل د تېر ویستنې پرځای په بشپړ ډول خپلې کړې وعدې او ژمنې ترسره کړي.

د افغانستان ولسمشر ښاغلی کرزي هم دا غوښتنه کړې چې د لفاظي پر ځای باید په دغو پرېکړو او ژمنو وفا وشي چې مطلوب نتایج ترلاسه او سیمه له ګواښونو څخه پاکه شي.

ښاغلي کرزي دا هم په څرګندو ټکو کې ویلي دي چې افغانستان له امریکا نه خپلو ګاونډیانو ته زیات اهمیت ورکوي ځکه چې له امریکا نه دوی ورته ډېر نژدې دي، خو یواځې د افغانستان په نیک نیتۍ او اخلاص د ګاونډیتوب ښې اړیکې نه شي ټینګېدلې. افغانستان همیشه د خپلو ګاونډیانو له خوا چیچل شوې او د همدوی د لاسوهنو او مفاداتو په سیالۍ کې له دغه بد حالت سره مخامخ شوې، که ګاونډیانو له افغانستان سره د ګاونډیتوب ښې اړیکې پاللې وای او د کمزورۍ کولو پر ځای پخپلو پښو ودرولې وای نن به افغانستان ولې امریکایي او غربي هېوادو پوځونو اډه ګرځېدلې وه او دا سیمه به ولې له دومره لوی ګواښ سره مخامخه وه چې د سیمې ټول هېوادونه په لړزان دي. د پاکستان او ایران په نسبت افغانستان ډېر کمزوری او غریب هېواد دی دا نه په ګاونډیو هېوادو کې د لاسوهنې څواک لري او نه هم دا کار د خپل هېواد او سیمې په ګټه بولي نو ځکه اصلي مسؤولیت پاکستان او ایران ته متوجه دی چې په بشپړ اخلاص یې ترسره کړي.

د ګوتو په شمار د څو مشهورو او پېژندل شویو څهرو پرته چې ځینې له ایران او ځینې له پاکستان سره د اړیکو د خرابولو هلې ځلې کوي د افغانستان مطلق اکثریت وګړي له پاکستان او ایران سره د ورورولۍ او دوستۍ ټینګې اړیکې غواړي، په تاوان یې خپه، او په ګټه یې خوشالېږي، په سیمه کې افغانستان، ایران او پاکستان داسې نه بېلېدونکي هېوادونه دي چې هر یو د یو بل لپاره د ملا د تیر، حیثیت لري او یو د بل یو بل له بقا او زوال سره تړل شوي دي، په دې سیمه کې چې هر یو هېواد له عدم استحکام او یا هم د پردیو یرغلګرو تر تاړاک لاندې راځي په څنګ کې بل هېواد هم خپل بقا او سالمیت برقرار نه شي ساتلې، د ډېر وخت راهیسې وینو چې له کله نه په افغانستان کې د ګاونډیانو د لاسوهنې له کبله د افغانستان امن او سلامتیا په خطر کې غورځېدلی ورسره جوخت د پاکستان او ایران امن او سلامتیا هم له ستر ګواښ سره مخامخ شوې چې فعلاً دواړه هېوادونه د خپل تاریخ په خطرناک پړاو کې واقع دي، د ایران د اتومي بټۍ په خلاف ټوله غربي نړۍ یو لاس شوې ساینسدانان یې وژل او ترور کېږي، له سخت اقتصادي بندیزونو سره مخامخ دی، د پاکستان اتوم بمونه هم اسرائیل، امریکا او نړۍ لپاره د سترګو زغې جوړ شوي او په دې لټه کې دي چې لاس رسی ورته پیدا کړي، د بلوچستان له جدایی غوښتونکو سره مالي او پوځي مرسته ددې خبرې ستر ثبوت دی، دا ټولې ناخوالې او حقایق په دې دلالت کوي چې که ایران او پاکستان د افغانستان د خپلواکۍ او استحکام لپاره کار ونکړي نو لېرې نه ده چې هغوی هم له افغانستانه زیات خطرناک سرنوشت سره اخته شي نو ځکه د عقل او منطق غوښتنه داده چې درې واړه اسلامي ګاونډي هېوادونه د یو بل د کمزورۍ کولو پرځای پخپلو کې د یو بل د استحکام او تقویت لپاره لاسونه ورکړي د یو بل په غم او درد کې شریک شي او له ټولو راپېښو مشکلاتو او چیلنجونو څخه د خلاصون لپاره د یو بل ترڅنګ ودرېږي.

که چېرته درې واړه هېوادو مشران په اسلام آباد کې پخپلو کړیو ژمنو او وعدو وفا وکړي نو په بشپړ اطمینان ددې خبرې وړاندوینه کېدلې شي چې درې واړه هېوادونه به نه یوازې د نړۍ په سترو څواکونو کې حساب شي بلکې ددې قابلیت به هم ترلاسه کړي چې د نړۍ هېڅ یو ظالم او جابر څواک ددوی د خپلواکۍ او استحکام د چیلنج کولو جرئت ونکړي.

که الله مکړه د پخوا په څېر د فیل په غوږونو کې ویده پاتې شي او موجوده حساس او خطرناک حالت درک نه کړي نو ددې خبرې انتظار دې له همدا اوس نه وباسي چې ایران او پاکستان به هم خپلې ټولې هغه لاسته راوړنې او بریاوې په اوبو لاهو کړي چې په ډېرو قربانیو یې ګټلې دي.

دامریکا نوی جنګي پالیسي د بې پیلوټه الوتکو په شکل کې

ژباړه: عبدالله کامه وال

دامریکا نه خپرېدونکی جریده والسټریټ جنرل دخرګندونوله مخې امریکا غواړي چې پر نړۍ دخپلې سلطې ساتلو لپاره په نړۍ واله کچه دبې پیلوټه الوتکو یوه ځواکمنه نیرو اویوه خاصه قطعه په ځینو هیوادونو کې جوړې کړي چې هر ځای اوهر وخت وغواړي عملیات ترسره کړي.

د دې ځانګړو ځواکونو د جوړېدو وړاندیز دامریکا د دفاع وزیر لیون پنیټا وکړ اوکانګرس یې د جوړېدو منظوري ورکړه چې په راتلونکي مالي کال کې به ورته بودیجه بیله شي دیو امریکای لوړپوړي چارواکي له قوله ویل کیږي چې داځانګړي ځواکونه به دنړۍ په مهمو نقطو کې خپلې اډې جوړوي اوپدې اډوکې به بې پیلوټه الوتکې اوځانګړي ځواکونه ځای پرځای کوي چې دضرورت پروخت به ترې کار اخیستل کیږي سره له دې چې په ځنو هیوادو کې امریکا داډول اډې لري او دځان په ګټه ترې کار اخلي چې د دې ځواکونو یوه قطعه دامهال په سومالیا کې دشورشیانو په ځپلوبوخته ده اوکامیاب عملیات ترسره کوي دامریکا په اند په پاکستان او سیمه کې ډرون حملې ګټورې دی اوپر ته له کوم ځاني اومالي زیانه یې هدف په نښه کړی اوښه لاسته راوړنې لري چې دا یو اسانه اوارزانه جنګي تکتیک دی.

د امریکا حکومت چې دا مهال دسختو اقتصادي ستونزو سره مخ دی او په کور دننه د ټیکس ورکونکو له لورې هم داپوښتنې کیږي چې روانه جګړه کې دامریکا یې ولس خیر څه دی دا اودې ته ورته هغه پوښتنې دي چې حکومت یې دزیاتو مشکلاتو سره مخ کړی او غواړي چې دې پوښتنو ته ځواب پیدا کړي نو ښه اومناسبه لار یې همدا ده چې دخپلو عسکرو په شمیر کې کموالی راولي او د عسکرو دشمیر پر ځای بې پیلوټه الوتکو ته ترجیح ورکړي دوالسټریټ په قول چې امریکا به په نږدې راتلونکي کې اته فوځي فرقې له منځه یو سي ددې فرقو دمنځه وړلوسره به دامریکایي فوځ شمیر هم له پنځه لکه او اویا زرو نه ځلور لکه نوي زرو تنو ته راښکته شي. داسې ویل کیږي چې دنوموړو ځواکونو لګښت به هم د بې پیلوټه الوتکوځانګړو ځواکونو ته ورکړ شي، امریکا غواړي دا ځواکونه به د هغه هیوادو په ګاونډ کې په زیات شمیر کې ځای پر ځای کړي چې د امریکا ګټوته ترې خطر وي دمثال په ډول په فلپین کې به دبیپیلوټه الوتکولپاره اډه جوړیږي اویو زیات شمیر الوتکې به هلته ځای پر پر ځای شي چې دچین دپرمختګ مخه ونیسي خو داسې ویل کیږي چې په فلپین کې به دا ځانګړی قطعه تر یوه وخته پټه وساتل شي خو په بیس یا اډه کې به دځانګړو ځواکونه تربیه په چټکۍ سره روانه وي او په هغو نوروهیوادوکې چې امریکا غواړي اډې جوړې کړي دفلپین په څیر پټ وساتل شي.

ددې ځانګړي فوځ جوړول به امریکا ته له سیاسي او اقتصادي پلوه ګټه ورسوي اقتصادي ګټه خو څرګنده ده چې دلکونو عسکرو کمیدو سره به هغه لګښت چې پردې عسکرو کیده په کور پاتې شي څکه دیو امریکایی لګښت په بهرني هیواد کې تر ۲۰۰۰۰زره امریکایی ډالرو اوړي اوله سیاسي پلوه به هغه مشکلات چې دعسکرو دمرګ ژوبلې پروخت یې له کورنۍ سره حکومت مخ وي خان خلاص کړي له بلې خوا به دهغه مبصرینو خولې بندې کړي چې وایي امریکا له اقتصادي بحران سره مخ ده اونوره یې دنړۍ والې بدمعاشی تغر په تېولیدو دی.

دامریکا یوه بله مشهوره ورځپاڼه لیکي چې امریکا به راتلونکي کې په افغانستان، پاکستان، اندونیزیا، اونورو هغه هیوادو کې چې ګومان کیږي ترهګر پکې پټنځایونه لري د بې پیلوټه الوتکو له لارې کنټرول کړي او په یادو هیوادو کې به خپلو سفارتونو ته دداډول ځواکونو دور کولو فیصله هم وکړي اخبار لیکي چې امریکا په ځینو هیوادو کې دبې پیلوټه الوتکود اډو جوړولو کار پیل کوي او شخصي کمپنیوته یې دکار اخیستو اعلان کړی چې دکار ټیکه واخلي او کومې کمپنۍ چې ګټونکې اعلان شوي هغوته یې دتیار اوسیدو اعلان کړی.

تیره میاشت دامریکا دفاع وزیر دفاعي بودیجه وړاندی کړه چې دتیرو کلو په پرتله کمه وه د دفاع وزیر لیون پنیټا وویل چې په بودیجه کې یې ۹ فیصده کمې راوستې اودفوځ په شمیر کې به ۱۳ فیصده کمې راولی خو په اسیا او منځني ختیځ کې به بیا فوځیان او فوځي لګښتونه زیات شي چې هلته یې ضرورت احساسیږي.

دبې پیلوټه الوتکو اډې به په زیاتو هیوادو کې جوړې شي اوپه راتلونکو ځلورو کلو کې به داځواکونه دنړۍ وتلی نظامي ځواک وي چې په راتلونکي کې به یې بودیجه زیاته شي. دامریکاله اوسنی پالیسی ښکاري چې امریکا د یو بل جنګ لپاره تیاری نیسي اوپر نړۍ دیو ستر جال دخپریدو خیال لري. امریکا له یوپلوه غواړي خپل نظامي لګښت راکم کړي اوله عراقه اوافغانستانه خپل فوځونه اوباسي خوله بله پلوه دلازیاتو نظامي اډو دجوړیدو په هڅه کې ده ښکاري داچې امریکا داسیمې نه پریږدي بلکې تردې زیاتو اوله موثرو لارو کار اخلي اوغواړي له دې ځایه خپل دښمنان دبې پیلوټه الوتکو په مرسته وځپي امریکا دامهال هم په افغانستان او عراق کې دبې پیلوټه الوتکو اډا لري. ویل کیږي چې امریکا د افغان دولته غواړي د افغانستان په مهمو ولایتونو کې داډو جوړولو اجازه ورکړي او داسې ښکاري چې افغان دولت ورسره په خبرو بوخت دی امریکا غواړي د فوځونو له وتوسره پدې هیواد کې داسې یوه ستره هوایی بې پیلوټه اډه جوړه کړي چې دسیمې هیوادونه به ترې څاري او دوی فکر کوي چې دبې پیلوټه الوتکو سره هغه څه چې غواړي کیدای شی نو عسکریی ولې مړه شي اوولې دومره بې خرته مصرف وکړو څکه په تیرو لسو کلو کې دامریکا تردې زرو زیات عسکرافغا نستان کې و وژل شوی او تر ۲۸۰ ملیاردو ډالرو زیات لګښت یې کړی، لدې ښکاري امریکا په افغانستان کې میاشتینې لګښت ۲ ملیارده او۴۰ کروړه دی چې دی لګښت دامریکا په اقتصادی حالت خورا زیات بد تاثیر کړی، دقرض اندازه له ۱۴ کربه او۳۲اربه ډالره نه لوړشوه اوله درې زرو زیات عسکریی و وژل شول چې دې سره داوباما دحکومت مقبولیت هم کم شوی نو اوس دوی غواړي هغه کار چې دیولاک فوځونو په واسطه زیات لګښت او دعسکرو په مرګ لاسته راوړلې اوس دبې پیلوټه الوتکواو سمیزو اډو له لارې په اسانه اوارزانه طریقه ترلاسه نه کړو نو دهمدې هدف لپاره امریکا غواړي په راتلونکي کې نوې اوپرمختللې بې پیلوټه الوتکې جوړې کړي چې په نوې ټیکنالوژۍ سمبالې وی اوددې لپاره یې کانګرس ته دځانګړې بودیجې وړاندیز کړی ددفاع وزیر په قول چې دا الوتکې به له پخوانیو الوتکو زیاتې کامیابې اوچټکې وي او د الوتکو بیه به ۱۰ .۵ ملیونه ډالر وي خو داوسنیو الوتکو چې دامهال ترې کار اخیستل کیږي ۱۵۰ ملیونه ډالره قیمت لري داسې ویل کیږي چې بې پیلوټه الوتکې لس کاله وړاندې له پنټاګون سره ترپنځوسو کمې وی خو دامهال یې شمیر تر ۷۰۰۰ اوړي فوځي اونظامي کارپوهان وایی چې په راتلونکي کې به دمروجو پیلوټ لرونکو الوتکوشمیر کې دپام وړ کمی راشي چې دا کار یواځې په امریکا کې نه دی پیل شوی بلکې په ټولو سیالو هیوادو کې یې سیالۍ روانې دي پینټاګون دبې پیلوټه الوتکو لپاره له کانګرسه پینځه ملیارده ډالر غوښتي.

دواشنګټن پوست په حواله چې روس، چین، هندوستان، پاکستان اوایران هم د بې پیلوټه الوتکو دجوړولو کار په ډیره چټکۍ سره پیل کړی اوچین خو داسې بې پیلوټه الوتکه جوړه کړې چې خورا جګ او لیرې پرواز کوي چې دمهال یې په سیالو هیوادو کې شوک دسیالۍ نشته د دې مقابل کې امریکا وړه اوپرمختللې الوتکه جوړه کړه چې په بحري بیړۍ کې دکیناستو اوالوتو وړتیا لري دنیویارک ټایمز په وینا امریکا دترهګرۍ دمخنیوی لپاره دبې پیلوټه الوتکو دجوړیدو ترځنګ پرداسې یوه بیړۍ هم کارپیل کړې چې پریو وخت د ۷۰۰۰ بې پیلوټه الوتکو دناستې وړتیا لري چې دهوایی ډګر په توګه به ترې کار اخیستل کیږي دیو امریکای سرچینې له قوله په ایبټ اباد کې داسامه بن لادن دکور لپاره له یوې داسې بې پیلوټه الوتکې کار اخیستل شوی و چې دالوتکې شکل دشوپرک په څیر وو داالوتکه خورا کامیابه ثابته شوه. اوس امریکایی ساینسدانان غواړي چې دالوتنکو پرېندو په څیر الوتکې جوړې کړي چې په هوا کې له پرېندوسره ورته وي اودیوې الوتکې ګمان پرې و نه شي او په استخباراتي چاروکې ترې کارواخیستل شي.

دواشنګټن پوست په قول چې داوباما اداره د بې پیلوټه الوتکو له کارکردګۍ اولاسته راوړنو راضي ده د دوي په فکر هغه کار چې په لګ وخت کې دهمدې الوتکو په وسیله ترسره شو هغه دهمدې الوتکوپه وسیله داسامه بن لادن وژل و. واشنګټن پوسټ زیاتوی چې دبې پیلوټه الوتکو په دومره چټکه پرمختګ اوزیاتوالي دفوځ او سی ایی ای ترمنځ هم درز رامنځته شوې دنوموړوځواکونو ټولې چارې سی ایی ای له لورې پرمخ خي اودامریکا فوځ پکې چندانې واک نه لري سی ایی ای د دې الوتکو لپاره په لسګونو مراکز دامریکا شرقي اوجنوبي سیمو کې جوړ کړی.

له دې پرته یې په نورو هیوادوکې هم مرکزونه جوړ کړي ددوه براعظمو په ښپږوهیوادو کې یې خفیه اډې جوړې کړې چې شاید دابراعظمونه به اسیا او افریقا کې وي.

واشنګټن پوسټ زیاتوي دامریکاپه تاریخ کې هیڅ ولسمشر دملي ګټونه ددفاع لپاره داستخباراتو له لارې دومره بې دریغه وژنې نه دي کړي پخوابه دضرورت په اندازه عملیات ترسره کیدل اوهغه به دکانګرس سره شریکیده خو په ۲۰۰۹ کال کی کله چې اوباما دولسمشری ځوګند پورته کړ نوهغه وخت داډول حملې یواځې په پاکستان کې کیدې اوداوباما تر ولسمشرۍ پورې ۴۴ ډرون حملې شوې وې چې پدې حملو کې ۴۰۰ تنه وژل شوی وو خو کله چې اوباما واک ترلاسه کړ نو ترننه دحملو اندازه ۲۴۱ ته لوړه شوې او دمړو شمیر تر ۲۰۰۰ اوړي دداډول حملو هدف یواځې القاعده اوترهګرنه بلکې دسیمې هیوادو ته خپل نظامي زور ښودل دي امریکا غواړي ایران ته هم یو سبق ورکړي اویو ستر هدف یې په سیمه کې دایران اتومي بټیوولـه منځه وړل دي چې داداسرایلو اوامریکا ګډ پلان دی خو ایران هم په ارام نه دی ناست او نظامي برخه کې چټک ګامونه اخلي په تیر میاشت کې کله چې ایران دامریکا بې پیلوټه الوتکه رانسکوره کړه نو دادامریکا لپاره یو سبق و او هغه حمله چې پرایران کیدونکې وه وېې ځنډوله خو تیره اونۍ دامریکا ددفاع وزیر لیون پنیټا و ویل چې امکان لري دروان کال په اپریل یا جون کې اسرایل پرایران حمله وکړي نو که داخبره ریښتیا وی بیا به بې پیلوټه الوتکې داسرایلو اوامریکا یوه ستره جنګي وسیله وي څکه امریکایی چارواکي پوهیږي چې د بې پیلوټه الوتکو په جنګ کې عسکر وته کوم زیان نه رسیږي اوهدف هم ښه ترلاسه کیږي سره له دې چې دامهال له امریکاسره ۷۰۰۰ بې پیلوټه الوتکې شته خو بیاهم دنویو اوپرمختللو وړو الوتکو لپاره له کانګرسه پینځه میلیارده ډالره غواړي له دې ښکاري چې امریکا څومره دبې پیلوټه الوتکو سره دلچسپي لري اوپه څومره اهمیت ورته قایل دي په پیل کې به له دې الوتکو یواځې ددښمن په پیداکولو کې کار اخیستل کیده خو وروسته پرې ای جې ایم میزایل نصب شو او په حملو کې ترې کار واخیستل شو داچې دبې پیلوټه الوتکو نوعیت به په راتلونکي کې څنګه وي دابه دساینس او ټیکنالوژۍ پرمختګ ته پرېږدو خو داندیښنې وړ داده چې دبې پیلوټه الوتکو جوړول به دغریبو ممالکو لپاره یوه خطرناکه راتلونکې ولري.

(سخنی با آقای داکتر رنگین دادفر سپنتا)

(ادامهء از صفحه اول)

...سه تریلیون سرمایه معدنی و بزرگترین پوشش جنگلی و ... قادر به برگشتاندن ملیونها مهاجر خود از همین کشورهای همسایه نیستند تا زمینه اسکان آبرومندانه آنها را فراهم کنید. برای آنها خانه و کاشانه در حد سرپناه و برای اطفال شان زمینه تعلیم و تحصیل و برای جوانان شان زمینه اشتغال را فراهم نمائید و دشمن از کودکان آنها هم بر ضد شما لشکر گیری می کند و آنها را تا حمله انتحاری در برابر هموطنان خود شان که تحت حاکمیت تیم شما بسر می برند آماده می سازد.

- شما تا زمانی شرمسار خواهید بود که در حضور نیروهای پنجاه کشور خارجی باز هم بزرگترین تولید کننده و صادر کننده مواد مخدر در جهان باشید و این همه نیروها نتوانند مانع کشت چرس و کوکنار شوند و یا از گرفتن حاصل آن مردم را باز مانند.

- شما در حالیکه انواع ادارات موازی و مسؤولین بزرگ بنام مبارزه با مواد مخدر داشته باشید، در اراضی زرخیز این کشور زمینه کشت بدیل مناسب و بدیل معشیت مفیدتر را فراهم نتوانید.

- با موجودیت همه ادارات استخباراتی و امنیتی که تمویل آن بر گردن جهانیان گرانی می کند جوانان بی سرنوشت، بیکار، ناامید و در کاریابی مواجه با تبعیض، امتیاز و اپرتاید به سهولت به چرس و هیروئین و تریاک دست می یابند که رقم مبالغه آمیز رسانه ها معامله روزانه خرید و فروش آنرا سه و نیم ملیون دالر در داخل شهر کابل اعلان می کند.

شما ده ها سال بعد به کشوری برگشته اید و حکمروائی میکنید که همه آنها چون شما از پوهنتونهای کشور پیشرفته جهان آلمان فدرالی دکتورا ندارند، اگر می خواهید در حل مشکل هموطنان خود رول مؤثر داشته باشید راه آن پاکسازی کشور مان از آنهائی که از آلمان، فرانسه، انگلستان و یا امریکا دکتورا ندارند نیست. از افغانستان آلمان ساختن در چند وقت محدود آرمانی بود که امان الله شاه جوان و احساساتی افغانستان را فرار روم کرد و جنازه او از دیار آوارگی سالها پس از زندگی در دیار غربت به جلال آباد آورده شد.

شاه امان الله توانست خود را به روم برساند اما بی تدبیری او در آوردن تغییرات و اصلاحات هزاران افغان دیگر را به کشتارگاه ها برد و پس از آن تاریخ سیاهی به افغانستان مسلط گردید که تا امروز در آتش آن همه این سرزمین می سوزد.

شما سرکوب مخالفان را در طی ده سال تجربه کرده اید اما نداشتن یک نظام همآهنگ و با برنامه سبب شده است که آنهائی را که دشمن می خوانید اگر از جبهات منظم جنگی مؤقتاً محروم شده باشند ساحه نفوذ شان تا گلوی ما و شما در همه جا وسعت یافته است شما اگر بتوانید مخالفین نظام را از مخالفت مسلحانه منصرف و آنها را به سهم گیری در زندگی سیاسی طبعی کشور بکشانید حتی اگر با دادن امتیاز هم باشد شرمسار نخواهید بود و این بهتر از آنست که جامعه جهانی فردای دور یا نزدیک زیر فشار، شاگردان مکاتب و پوهنتونها، استادان پوهنتونها، فعالان جامعه مدنی، مجالس و اعضای پارلمانهای شان با توجه به فساد، بی کفایتی و نا هم آهنگی نظام، ما و شما را ترک گویند و بار تمویل ما را بر شانه خود گران خوانند و بار دیگر کشور ما میدان بازی کشورهای منطقه گردد و فرزندان این سرزمین را بجان هم اندازند و مجال برای صلح هم در آن جستجو شده نتواند. زیرا همین اکنون و همین ده سال فرصت آوردن صلح بوده و است که نباید اشغال آن توسط عناصر مغرض و عقده مند دوام یابد. از تلاش صلح افراد و شخصیت های صلح طلب می تواند نصیب این ملت گردد آنهائیکه از یکجا نمودن طرف های جنگی امید آوردن صلح را دارند اصلاً خواهان آن نیستند.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

امریکایي ځواکونه به په افغانستان کې له ۲۰۱۴ کال وروسته پاتې شي

لویدیځو ورځپاڼو د افغانستان په اړه ګڼ مسایل څېړلي چې نوریاس نوري یې غبټ ټکي په لاندې راپور کې رانغاړلي دي.
واشنګټن پوسټ ورځپاڼې امریکایي ځواکونه به په افغانستان کې له ۲۰۱۴ کال وروسته پاتې شي، تر سرلیک لاندې د افغانستان لپار د امریکا د یوه پخواني سفیر رونالد نیومان په قلم یوه مقاله خپره کړې چې د پیل په کرښو کې لیکي: د امریکا د دفاع وزیر لیون پانیتا روانه میاشت په خپلو دی څرګندونو سره چې د امریکا رول به په افغانستان کې مشورتي ته بدلیږي، ډیرسوه تفاهم رامنځته کړ.
د ورځپاڼې په وینا رسنیو د پانیتا دغه څرګندونې داسې وانګیرلې، چې ګواکې امریکا له افغانستانه د خپلو عسکو ایستل ګړندی کوي حال دا چې سپیني ماڼی تر اوسه په دې اړه پریکړه نه ده کړې او نه هم افغان امنیتي ځواکونو ته د مسولیتونو د انتقال په ستراتیژي کې بدلون راغلی.
واشنګټن پوسټ وړاندې لیکي، یوه مسله چې د خلکو سوتفاهم یې زیات کړی دا دی چې دوی افغان امنیتي ځواکونو ته د مسولیتونو د لیږد په اړه سم نه دی پوه. د ورځپاڼې په وینا دغو ځواکونو ته د مسؤلیتونو انتقال له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو له مهال ویش سره نه دی تړلی.
بلکه هدف دا دی چې افغان امنیتي ځواکونه له ۲۰۱۴ کال وروسته زیاتره پوځي عملیات په خپله پرمخ یوسي خو بهرني مشاورین به یې بیا هم په څنګ کې وي. واشنګټن پوسټ همدا شان لیکي، امریکایي ځواکونه به له ۲۰۱۴ کال وروسته له افغان امنیتي ځواکونو سره، د لوژیستکي، هوایي ملاتړ او روغتیایي چارو په برخه کې مرستو ته ترحد اقل ۲۰۱۶ کال پورې دوام ورکړي، ځکه تر دغې نیټې به افغان امنیتي ځواکونه په خپله ونه توانیږي چې دغه چارې په خپله ترسره کړي.
د واشنګټن پوست له دې لیکنې سره سم په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو په رول کې بدلون مهم دی، خو له دې سره سره به دغه ځواکونه تر۲۰۱۴ او له هغه وروسته د جګړو په میدان کې حضور ولري.
نیویارک ټایمز:
نیویارک ټایمز ورځپاڼه په وروستی ګڼه کې د پاکستاني طالبانو د یوی نوی مالي سرچینې په اړه په یوه مطلب کې لیکې چې پاکستاني طالبان او د هغوي متحدین په وروستیو کې د خلکو د تښتونې له لارې میلیونونه ډالر ترلاسه کوي، چې د لیکوال په باور له دې سره بهرني مرستندویه پروګرامونه له خطر سره مخامخ شوي او په دې هېواد کې جهادي شبکې او جنایت کاري ډلې پیاوړې کیږي.
نیویارک ټایمز د پاکستان د امنیتي چارواکو په حواله لیکي، شتمن کارخاني لرونکې، متخصصین، لویدیځ مرستندویه کارکونکې او د پوځي چارواکو خپل خپلوان له تیرو دریو کلونو راهیسې په تښته شوي چې د تښتونې دغې لړۍ لویو ښارونو ته هم غزیدلې ده.
د ورځپاڼې په وینا د اکثرو یرغملو د دغه دردونکې سفروروستی منزل شمالی وزیرستان دی چیرې چې د امریکا د سی ای ای بې پیلوټکو الوتکو د پاکستانی طالبانو پراهدافو حملو ته زوروړکړی دی.
نیویارک ټایمز د یوه خوان پنجابی سوداګرچې تیر کال هلته شپږ میاشتې د طالبانو په ولکه کې و دا خبرې راخیستې چې وایي، دا د تیارو خونو، په پټه د سفرونو او سختو وهلو ټکولو یوه نه هیریدونکو تجربه وه چې برمته نیونکو په څه بې رحمی سره د هغه له لیرې خپلوانو سره د پیسو د معاملې په اړه خبرې کولې.

د قرآنکریمونو پر سوځولو ...

کړې ده، چې په پایله کې یو کارکوونکی ټپي شوی او پنځه نور د هغوی له خوا نیول شوي دي.
لاریون کوونکي ادعا کوي، چې امریکایي ځواکونو تېره شپه د پروان د بګرام په هوایي ډګر کې د قران کریم نسخې سوځولي دي او په دغه کار یې د اسلام مقدساتو ته سپکاوی کړی دی.
په افغانستان کې د ایساف ځواکونو عمومي قوماندان جنرال جان الن وایي، چې د ایساف سرتېرو د بګرام په هوایي ډګر کې د قرآن کریم په ګڼون زیاته اندازه دیني کتابونه له منځه وړي دي، خو زیاتوي، چې دغه کار په هیڅ صورت قصدي نه وو.
په هغې خبرپاڼه کې، چې په کابل کې د ایساف قوماندانۍ د مطبوعاتي دفتر له خوا پژواک خبري اژانس ته رسېدلې ده، جان الن په کې د افغانستان خلکو ته د نجیبو خلکو خطاب کړی او ویلي یې دي: "ما د هغو راپورونو په اړه، چې ګواکې تېره شپه د ایساف منسوبینو په بګرام کې د قران کریم په ګډون زیات شمېر اسلامي کتابونه په نامناسب ډول له منځه وړي دي، د څېړنې امر کړی دی."
دی وایي: "موږ په دې برخه کې پراخې څېړنې کوو او موږ به داسې اقدامات ترلاس لاندې ونیسو، چې دغه کار په راتلونکې کې تکرار نه شي."
په افغانستان کې د ایساف ځواکونو عمومي قوماندان زیاته کړه، چې هغوی له ولسمشر کرزي، د افغانستان له حکومت او ټولو خلکو نه د هغې ناخوښۍ له امله، چې د دغه کار له امله رامنځته شوې ده، په ریښتوني ډول بښنه غواړي.
جان الن زیاته کړې: "زه د سیمې له خلکو نه منته کوم، چې د دې نیمګړتیا په پېژند ګلوی او له هغو کسانو نه، چې د فوري پرېکړې په کولو یې له موږ سره مرسته کړې ده."

حامد کرزی درباره سفرش ...

رییس جمهور کرزی سفرش به پاکستان را مثمر خوانده گفت، او در پاکستان با تمام جوانب مهم، در مورد پروسه صلح صحبت های داشته و با آنها گفتگوی مفصل و همه جانبهء را انجام داده است.
رییس جمهور اوباما سفر حامد کرزی را به پاکستان برای تامین صلح در افغانستان یک گام مهم و مثبت خواند و اظهارامیدواری کرد که این گونه تلاش ها در آینده هم ادامه یابد.
به نوشتهء رویترز، هردو روسای جمهور در مورد اجلاس رهبران سه کشور افغانستان، ایران و پاکستان نیز، گفتگو کردند.
در اعلامیه قصر سفید آمده است که روسای جمهور امریکا و افغانستان موافقه کردند که در آینده نزدیک بایکدیگر گفتگوی می کنند.
زیرا هر دو کشور به اهداف مشترک و همکاری های دراز مدت ستراتژیک شان، تلاش می کنند تا با یکدیگر تماس نزدیک داشته باشند.
در این میان حامد کرزی دیروز در دیدارش با شورای عالی صلح افغانستان نیز در مورد نتایج سفرش به پاکستان معلومات داد.
عبدالحکیم مجاهد عضو شورای عالی صلح به رادیو آزادی گفت که رییس جمهور کرزی از این سفر خیلی راضی به نظر می رسید.
قبل از این، ایمل فیضی سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان سفر حامد کرزی را به پاکستان در جمله سفرهای وی به این کشور در ۱۰ سال گذشته، خیلی مهم خوانده گفت که آنها تغییراتی زیاد را در میان پاکستانی ها مشاهده کرده اند.

استجواب شوي وزیران دې خپل ...

ظاهر قدیر دغه پریکړه په داسې حال کې وکړه، چې د ولسي جرګې نصاب هم نه وو، پوره، کله چې له وزیرانو څخه پوښتنې کیدلې له سلو څخه زیات وکیلان په تالار کې ناست وو خو د ځوابونو په وخت یوازې ۴۰ وکیلان موجود وو.
له تالار څخه د وکیلانو وتل د دې لامل شول چې وزیران هم په نه زړه د وکیلانو پوښتنو ته ځواب ورکړي.
د اوبو او بریښنا وزیر محمد اسماعیل د وکیلانو په نه حضور تاسف څرګند کړ او وې ویل:
"له خپلو ورونو او خویندو څخه ډیره منته، ما هیله درلوده چې سبا تاسې ته راشم او هغو کسانو ته ځواب ورکړم چې پوښتنې یې کړي.
زه متاثره یم، چې هغوي په تالار کې حضور نه لري او داسې پوښتنې یې هم وکړې چې په اړه یې معلومات نه درلودل."
یادو وزیرانو د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال د مصرف شوې بودیجې په اړه وکیلانو ته معلومات ورکړل او د پراختیایي بودیجې د کم مصرفیدو لوی لامل یې د هېواد په کچه ناامني په ګوته کړه.
خو د وزیرانو دغه دلیل وکیلانو ته قناعت بخښوونکی نه وو او ځینو وکیلانو په انتقادي ډول وویل، چې په دغو وزارتونو کې ټیټې ورتیاوې د دی سبب شوې چې بودیجه کمه مصرف کړي.
شکریې بارکزی د وزیرانو له خوا وړاندې شوي دلایل ونه منل او وې ویل، چې دا ډول ځوابونه د افغانستان د خلکو په وړاندې لویه جفا ده: "کاشکې د افغانستان پارلمان شپیته فیصده بودیجه معیار ټاکلی وای، نو تاسې به په هغه وخت کې لیدلي وای چې دغه لویان به راغلي وای او خپل مصرف به یې له شپیتو فیصدو زیات ښوده.
هر یو خپله ملامتي یو په بل اچوي، دوي وایي ډونر پیسې نه راکوي او د بودیجې په سند کې غلطي موجوده وه.
بلاخره دوي راځي او وایي، چې موږ له څلویښتو فیصدو څخه زیاته بودیجه مصرف کړې ده."
ولسي جرګې له دې یوه ورځ وړاندې هم څلور وزیران استجواب کړل چې ځوابونه یې ورته دقناعت وړ نه وو.
ولسي جرګې پریکړه کړې هرهغه وزیر به استجوابوي چې په ۱۳۸۹ کال کې یې له کمه پراختیایي بودیجه مصرف کړې ده.

در مورد اشتراک افغانستان در ...

هم کسی رد کرده نمی تواند که جریانی روان است و آنانی که درین جریان داخل اند بسیار زیاد احتیاط می کنند که جریان آسیب نبیند.
تحلیل شبکه تحلیلگران افغانستان در ادامه می نویسد روزنامه والستریت ژورنال در ۱۵ ام فبروری با حامد کرزی مصاحبه یی داشت که هیجان رسانه های بین المللی را برانگیخت.
این صحبت آقای کرزی اعترافی به آغاز مذاکرات میان حکومت افغانستان، طالبان و امریکا و حتی اعلانی از سوی رسانه ها تعبیر شد و رسانه ها آن را انکشاف مهمی در تلاش ها برای پایان دادن جنگ ۱۰ساله در افغانستان تعبیر کردند.
اما طالبان این خبر را به زودی رد کرده و گفتند که با مقامات حکومت افغانستان مذاکره یی انجام نداده اند.
اضافه بر این گفته می شود که حامد کرزی در جریان سفرش به اسلام آباد در صحبت با رییس جمهور پاکستان با بسیار عصبانیت گفت، بزرگان طالبان را شما ایجاد کردید حالا آنانرا به مذاکره حاضر سازید. نویسنده مطلب می گوید، کسی که مطمین باشد نباید اینگونه صحبت کند.
رییس جمهور افغانستان به والستریت ژورنال گفته بود با حکومت امریکا و طالبان تماس هایی گرفته شده حکومت افغانستان با طالبان تماس گرفته است، ما همه به شمول طالبان در محل سوم تماس هایی گرفته ایم و ازین بیشتر چیزی گفته نمی توانم.
تحلیل می گوید، در مصاحبه والستریت ژورنال آقای کرزی در باره مذاکرات صلح تقریباً هیچ چیز نگفته است و تنها می گوید، افغانستان از جریان این مذاکرات بیرون نمانده است.
تحلیل شبکه تحلیلگران افغان می گوید، حامد کرزی در مصاحبه با والستریت ژورنال وجود اختلاف نظر ها را تایید می کند اما در رابطه به انکار طالبان می گوید، ما در حال مذاکره با طالبان به سطوح مختلف هستیم و هر گونه تماس های رسمی و شخصی را با آنان محکم کرده ایم و ما از رسانه ها این را هم شنیده ایم که طالبان آغاز مذاکرات با ما را رد کرده اند اما این اظهارات از جانب یک نفر می شود.
تحلیل می گوید، حالا در یک طرف قضیه رییس جمهور افغانستان قرار دارد که می گوید، در مذاکرات میان امریکا و طالبان شرکت دارد، در جانب دیگر طالبان اند که می گویند، به شرکت حکومت افغانستان در مذاکرات نیازی نیست و جانب سوم هم ایالات متحده امریکاست که هنوز تلاش می کنند مذاکرات صلح را جریانی به رهبری افغانها معرفی کند.
حالا که اظهارات هر سه جانب را با هم یکی کنیم بازهم تصویر درستی از حقیقت مساله به دست نماید و عجیب هم نیست زیرا این اظهارات همه در واقع تلاشی برای فرستادن پیامهایی به افغانهای عام و تلاشی است که هدف آن به نظر نویسنده شبکه تحلیلگران افغانستان بیان خیالی وضعیت است نه نمای حقیقی آن.

مذاکرات صلح، روابط طالبان ...

طالبان به خبر گزاری فرانس پرس گفته اند، القاعده آنها را ملامت کرده و می گوید، وقتی که آنها در جنگ افغانستان به القاعده نیاز داشتند، القاعده در پهلوی آنها قرار داشت ولی اکنون طالبان القاعده را تنها رها می کنند.
یک منبع نزدیک با القاعده در تماس با خبر گزاری فرانس پرس گفته است که این شبکه از مذاکرات دوحه راضی نیست و آنها می خواهند که جنگ در افغانستان و پاکستان ادامه داشته باشد.
اما اتحاد با القاعده برای طالبان گران تمام شده است. آنها بعد از حملات ۱۱ سپتمبر سال ۲۰۰۱ در امریکا از تسلیم نمودن اسامه بن لادن خود داری کردند که این عمل سبب سقوط نظام آنها توسط جامعه جهانی به رهبری امریکا شد.
به نوشته فرانس پرس در آنوقت امریکا هر نوع مذاکرات را با طالبان رد کرد و با پراکنده شدن صفوف طالبان آنها به آن طرف سرحد فرار کرده و القاعده آنها را با آغوش باز قبول نمود که با این عمل صفحه نوی در روابط طالبان و القاعده باز شد.
اما با خراب شدن وضیعت در افغانستان ، به نوشته خبر گزاری پیروزی علیه طالبان ناممکن گردید. علاوه بر آن اعلان رییس جمهور اوباما که تا ختم سال ۲۰۱۴ قوای محاربوی امریکا را از افغانستان خارج می کند، دروازه را برای برگشت طالبان به قدرت باز نمود.
در چنین حالت امریکا مذاکرات صلح را با طالبان آغاز کرد، اما به این شرط که طالبان روابط خود را با القاعده کاملاً قطع نمایند.
عربستان سعودی هم گفته است در صورتی در این پروسه همراه می شود که طالبان القاعده را محکوم کنند.
فرانس پرس در ادامه می نویسد، با تصدیق آغاز مذاکرات صلح با امریکا، رهبر طالبان ملا محمد عمر در حقیقت عملاً از القاعده فاصله گرفته است. در چنین حالت به نوشته خبر گزاری از نگاه نظامی هم القاعده تضعیف شده و در حدود چند صد نفر در پاکستان دارد و شمار طرفداران آن در افغانستان شاید از ده ها نفر بیشتر نباشد.
ژورنالیست پاکستانی و کارشناس امور افغانستان رحیم الله یوسفزی می گوید، طالبان افغان چنین فکر می کنند که برای القاعده کافی خدمت کرده اند. به گفته او بعد از کشته شدن اسامه بن لادن فاصله بین طالبان و القاعده بیشتر شد.
یک مقام طالبان که نامش ذکر نگردیده به خبر گزاری فرانس پرس گفته است که اخیراً ملا محمد عمر از طالبان پاکستانی خواسته است که خود را از القاعده دور کنند و در پاکستان جنگ نکنند، که به گفته مقامات طالبان این عمل برای پروسه صلح افغانستان اهمیت حیاتی دارد.

افغان حکومت د ستراتیژیک ...

هغه وویل، چې د ستراتیژیک سند تر لاسلیک مخکې باید په دې برخه کې د دواړو لوریو ترمنځ شته ستونزې حل شي.
دغه مهال د افغانستان حکومت او د امریکایي لوري ترمنځ د دغه تړون پر سر، چې په افغانستان کې د امریکا د پوځي اډو جوړېدل یې یوه مهمه برخه ده، خبرې رواني دي.
ولسمشر حامد کرزي څه موده وړاندې ګواښ کړی و، تر هغه چې بهرني ځواکونه په افغانستان کې د شپې عملیات او د خلکو کورونو تلاشي بنده نه کړي، له متحدو ایالتونو سره به ستراتیژیک تړون لاسلیک نه کړي.
دودیزې لویې جرګې هم د افغانستان ملي حاکمیت، خپلواکي، ځمکنی بشپړتیا، اسلامي او افغاني ارزښتونو ته درناوی او د شپې له خوا د خلکو د کورونو د تلاشیو او عملیاتو د بندولو په شرط له امریکا سره د ستراتیژیک تړون ملاتړ کړی وو.
د ولسمشر ویاند وویل، د افغانستان حکومت مسوولیت لري، چې د دودیزې لویې جرګې پرېکړې، له ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه له متحدو ایالتونو سره په ستراتیژیک تړون کې، په نظر کې ونیسي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com